آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۵/۰۱

# د لوږې څونامي

## ۴۵مه‌برخه

لغړه خپلواکي ده او د لوږې انقلاب دی
دا شوندې د قحطی په توپانونو کې چاودلي

د مخ د سیپارو نـه د الفت توري الوتي
زاري مو د یو بل نه نفرتونو کې چاودلي

(عبدالوهاب باور)

راپورونه داسې وايي چې پر افغانستان باندې د لوږې څونامي څپې بیا مرګوني شوې دي او د بې‌خوړو او وږو لښکر مخ په ډېرېدو دی. د لوږې څونامي د دې توندو بادونو په لړ کې زموږ د خوارو او وږو خلکو حالت تر دې بریده خراب شوی دی چې افغانستان یو ځل بیا د منفي لستونو په کش‌کرېپ کې د لسو وږو هېوادونو په لست کې درول شوی دی.

د راپور ورکونکې مؤسسې په ریوټ کې راغلي دي چې: له لوږې سره مخ خلکو لویه برخه «په افغانستان، سودان، جنوبي سودان او یمن کې اوسېږي...»

د لوږې لاملونه په هرهېواد کې بېل دي، په افغانستان کې د اوږدو جګړو اثرات، د جګړو په ترخ کې کور دننه د ګڼو خلکو بې‌ځایه کېدل، طبعي پېښې (وچکالي، زلزلې، سیلاوونه، په ډله‌ایزه توګه د ګڼ‌شمېر هېوادوالو بېرته راستنېده او...) او بې‌کاري هغه لاملونه چې ډېره سلنه خلک د لوږې‌څونامي سره لاس‌ګرېوان دي.

همدا نن (۲۰۲۶/۰۴/۳۰) رسنیو د ملګرو ملتونو په حواله ریوټ ورکړی دی چې په راوتلو سپلاونو کې په سلګونه افغانان وژل شوي دي او په لسګونه زره خلک بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.
زموږ په هېواد کې، د اوبو د نه مدیریت او د اوبو په ارزښت د نه پوهېدو په وجه، په باراني موسومونو کې افغانانو ته ګڼې ستونزې پېښېږي او ان د مرګ ترپولې پورې یې رسوي؛ خو اوبه مو پردیو هېوادونو ته بهیږي او ګټې یې هغو ته رسېږي.

په ناځاپې ډول له ایران او پاکستان نه د لږ‌څه کم درې میلیونه افغانانو جبري راستول، په افغانستان کې د لوږې کړکیچ نور هم په داسې ستونزې بدل کړی دی چې اوس یې د حل لار له تولو نه ورکه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په میډیا کې راغلي دي چې «د خوړو د کړکېچونو نړیوال راپور» کې د افغانستان یادونه داسې شوې ده چې: «... افغانستان د هغو هېوادونو په ډله کې دی چې د شدیدې لوږې له پلوه تر ټولو ډېر اغېزمن شوي، او په نړۍ کې د خوړو د بحران‌ځپلو هیوادونو په لېست کې پنځم ځای لري.

د راپور له مخې، شاوخوا ۱۷.۴ میلیونه افغانان ــ چې د هېواد نژدې ۳۶ سلنه نفوس جوړوي ــ د خوړو له جدي کمښت سره مخامخ دي.»

د لوږې‌څونامي دلایلو او ریښو پسې که لږ لټه وشي، لیدل کېږي چې د جګړې د کلونو په ترخ کې اداري فساد یو له هغو دلایلو له دلې نه دی چې د خلکو هرڅه لوټل شوي او مسؤلین هم مالوم نه دي، هرڅوک وایي چې ما نه دي کړي.

د «سیګار» په یو رپوټ کې ویل شوي چې: «امریکا په افغانستان کې پر جګړې او بیارغونه ۷۶۳ میلیارد ډالر لګولي.

دا مبلغ په نړیواله کچه داسې بې‌جوړې دی چې کېدای شوای افغانستان بېرته له بنسټه پرې نوی او مدرن شي، خو ټوپکي پټنګانو، ټولو د فساد او چورتالان په کوم پوهنتون کې د لوټ په درسونو کې په لوړه‌درجه داسې کامیاب او باتجربه و چې دا مبلغ یې لکه د کلونو وږي داسې ترستونو تېر کړ چې اوس ټوله نړۍ ورته حیرانه ده، خواره خواري د افغانستان د خلکو ده چې پر وچ‌ډاګ باندې وږي، بېنوا او تش‌لاس پرېښودل شول.

له لرې او نږدې هېوادوو نه په ناڅاپي ډول د ګڼ‌شمیر افغان مهاجرو بېرته راستنول، که له یوې خوا د لوږې څونامي څپې لا مرګوني کوي، له بلې خوا د دومره شمېر بیکاره ځواناو ستنېدنه او تش‌لاس دا زمینه برابروي چې جنګیالی ډلې دا بېکاره ځوانان د خپلو جګړو د پرمخبېولو لپاره استخدام کړي، چې دا خپله د یوې بلې غېزې یو وحشتناکه فصل دی.

اوږده موده جګړه، د طبیعت د جبر له مخې وچکالي ــ زلزلې، بې‌وزلي، لوږه، خوارځواکي او بیا د ګور تیارو ته ورمیلمه کېدل؛ دې حالاتو پر افغانانو باندې داسې څه راوستل چې اوس یې پرته له ډزو ـ چاودنو داسې وژني چې څوک پرې خبرېږي هم نه. «د لوږې‌څونامي» په څو مقالو کې ما په ټینګار سره دا ویلي وو چې: د دې وژونکې څونامي لومړني قربانیان ماشومان او بارداره ښځې دي...

دا یې زورونکې بېلګه ده چې د یوې کورنۍ درې واړه ماشومان (یوکلن ـ اومیاشتنی ـ درې‌میاشتنی) یې د ګور تیارو ته یوړل:

یوه اولادمړې افغانه مور وایي:

«درې ماشومان مې له لوږې مړه شول، هیله مې دا ده، چې فرښتې به یې کور ته راوړي»

افغانان ډېرځلې د خیراتونو په تمه وي، په داسې کال کې چې خیرات د حل لاره نه، په خیرات به یوه ورځ، دوې‌ورځې، یوه‌اونۍ او کېدای شي یومیاشت خیټه مړه شي، تر هغه وروسته به څه کېږي؟

د لوږې څونامي د مخنیوي اصلي لار دا ده چې خلکو ته کار پیدا شي، ټولنه تولیدي شي، استهلاکي ټولنې تل له همداسې ستونزو سره لاس‌ګرېوان وي، لکه په اوسني حالت کې زموږ ټولنه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د لوږې ځونامي په سختو حالاتو کې زموږ پر خلکو داسې حالت هم غالب شوی چې د وچې ډوډۍ هوس هم کوي او د سړو له لاسه د دوزخ د تودوخې ارمان ورسره وي:

## د دوزخ ارمان

په دنیا کې د سړې ډوډۍ خماره
په جنت کې د اویا حورو سرداره

خدایه ځنګه به د سور دوزخ ارمان کړي!
لاس و پښې به يې يخ ويستي وي له کاره!

داسې ژوند چې حلق يې تريخ وي لکه زهر
هره ساه به يې بتره وي له داره

زړه يې تور وي لـه تمـامـه انسانيته
زاره ټکي وي له هـر يـوۀ سـرکـاره

ماتو زړونو د چا زړه مات کړ باوره؟!
د چا زړه و چاود د خوږ زړه له پرهاره؟!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ